آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۲/۰۳

# خـو اوس پنـدي يـمه پندونه ورمـه

په يوه پردي وطن کې، د مهاجرت او بې اسنادئ حالت، د فزيکي او رواني بارونو درونډ والی، هغه هم پر له پسي هره ورځ، ور سره د خلکو او وطن د نوستالوکي (نستلژي يا نستلګي) په اور کې سوځيدل او ...
د دغو فشارونو او بارونو درونډ والي ته مې تن او روان لکه غر هسي ولاړ و. په داسي طوفاني حالت کې د مرستي او تمې هيڅ داسي پته نه وه چي سترګي مې ور اړولي وای، په دغسي يو ستونزمن چاپيريال کې يکي يوازې يوه يوه مخلوق زما لاسنيوی کړی دی چي هغه زما د ذهن په تاخانو کې له مودو مودو را ټول شوي پاک او وللي شاعرانه توري او لغات وو. د لغاتو د همدغه لښکر په مرسته مې د رواني او فزيکي بارونو بلا ته کله، کله خواب وايه. يوه بيلګه يې زما دغه ځلوريزه ده:

پر زخمي زړه باندي شـعرونه ورمـه
په هـر پرهـر کې يې دردونه ورمـه
په شنو باغو کې شين طوطي ګرځيدم
خـو اوس پنـدي يـمه پندونه ورمـه

۱۹۹۸/۰۱/۱۸
مسکو، روسيه
(مرورہ مځکه، پنځوسم مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ